انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۲/۰٤/۳۰

# که اختر وي؟

وي اختــــر دی مبــــارک، ملــــت دي ښــــاد وي
لــــوی واړه دی زمــــونږ، ټــــول آبــــاد آبــــاد وي

د یــــو والــــی پــــه زنځــــیر دی ســــره بنــــد وي
د بیلتــــون پــــه آس ســــپاره دي ټــــول برباد وی

دروازی دی ښــــونځیو وي ورتــــه بیرتــــه
د وطــــن بچــــي دي زده کــــړي تــــه آزاد وي

مــــات دی نــــه شــــي د دښــــمن پــــه ګــــذارونــــو
د افغــــان زلــــمی دی مــــټ لکــــه پــــولاد وي

چــــی انســــان تــــه د انســــان پــــه ســــترګه ګــــوري
کــــه هرڅــــوک وي، دا انســــان دی زنــــده بــــاد وي

پــــرون بیــــا پــــه وینــــو ســــور شــــو زمــــونږ کلــــی
ناســــت تــــر څــــو بــــه راتــــه لاره کــــی صــــیاد وي

دعــــا وکــــړي چــــی اختــــر بــــی وینــــو تیــــر شــــی
کلــــیوال دی هــــم دُعــــاوو کــــی درتــــه یــــاد وي

اپریل/۲۸/۲۰۲۰

اوه وشتمه روژه

کِنګستِن کاناډا



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com



برای مطالب دیگر انجنیر سلطان جان کلیوال روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com